# په جنّت کښې د

# آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ګاونډي

**08-February-24**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په 8 فروري کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# په جنّت کښې د آقا ﷺ ګاؤنډي

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د بارګاهِ رسالت نه څه غوښتلے شي؟
- ...د آقا ګاؤنډ اوغواړئ!
- ... د آقا ګاؤنډي جوړوونکي اعمال
- ... لور لکه چې د جنّت ټکټ دے

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِىَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د رسولِ ذيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دے: اَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً، يعنې د قيامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زيات ما ته نزدې هغه خلق وي کوم چې په ما باندې د ټولو نه زيات دُرُود شريف لولي. (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! درودِ پاک څومره اعلیٰ نيکي ده...!! د دې په برکت د مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب نصيب کيږي. الحاج مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: د قيامت په ورځ به د ټولو نه په آرام هغه کَس وي کوم چې به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته د اوسيدلو (يعنې د قربت، نزدې والي) نصيب کيدلو ذريعه د درود شريف کثرت دے. د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې درود شريف بهترينه نيکي ده ځکه چې په ټولو نيکو جنّت ميلاويږي او په درودِ پاک لوستلو مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ميلاويږي. (2)

---

1...ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل الصلوة...الخ، صفحہ:144، حدیث:484۔
2...مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:100 بتغیر قلیل۔

حشر میں کیا کیا مزے وارفتگی کے لُوں رضا | لَوٹ جاؤں پاکے وہ دامانِ عالی ہاتھ میں [1]

**وضاحت:** د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہ علیہ د عشق جوش ته اوګورئ! فرمائي: اے رضاؔ د قیامت په ورځ به دیوانه وار د عشقِ رسول خوندونه اخلم، چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د کرم لمن په لاس راشي نو په عشق او محبت کښې به بے قراره او بے قابو شم. **الله** پاک دې زمونږه د حشر په میدان کښې بلکه په دنیا کښې، په ځنکدن کښې، په قبر کښې، په حشر کښې، په میزان، په پل صراط، په هر ځائے کښې د مصطفٰے کریم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د لمن سورے نصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم.

نزع میں، گور میں، میزاں پہ، سرِ پُل پہ، کہیں
نہ چھٹے ہاتھ سے دامانِ مُعلّٰی تیرا
کس کا مُنہ تکیے! کہاں جائیے! کس سے کہیے!
تیرے ہی قدموں پہ مِٹ جائے یہ پالا تیرا[2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے.[3]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ښه نیت بنده جنت ته رسوي، د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ✿ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم

---

[1]... حدائقِ بخشش، صفحہ:104۔
[2]... حدائقِ بخشش، صفحہ:17، 31 بتقدیم وتاخیر۔
[3]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

✿عِلمِ دِين به زده کووم ✿ په اَدب به کښېنم ✿ نصيحت به حاصلووم ✿د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** نن د يوې ځانګړې، ناشنا او ايمان تازه کوونکې موضوع سره حاضر يم، اُميد دے چې د دې موضوع په نوم اوريدو به د عاشقانو زړونه خوشحاله شي، رُوح به ئې خوشحاله او ايمان به ئې تازه شي. موضوع د هٰغه عظيم الشانه او اعلیٰ ترين نعمت په باره کښې ده چې هر رښتونے عاشقِ رسول ټول عمر د دې نعمت خواهش لري، د دې ارمان لري، د دې د پاره سوالونه کوي او د **الله** پاک د رحمت اميدوار وي او د دې نعمت نصيب کيدو په انتظار وي. موضوع څه ده؟ لږ په زړه لاس کيږدئ او واورئ! زمونږه ننئ موضوع ده: **په جنّت کښې د آقا ﷺ ګاونډي**.

خومره ايمان تازه کوونکې موضوع ده...!! لږ د عاشقانو د امام، اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارمان واورئ! ليکي:

جنّت نہ دیں، نہ دیں تری رُویت ہو خیر سے
اس گُل کے آگے کس کو ہَوَس برگ و بر کی ہے
شربت نہ دیں، نہ دیں، تو کرے بات لطف سے
یہ شہد ہو تو پھر کسے پروا شکر کی ہے [1]

**وضاحت**: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ! جنّت عطا کيدل يا نه عطا کيدل د **الله** پاک په رضا باندې منحصر دي، زما ارمان دا دے چې داسې ځائے رانصيب شي د چرته نه چې ستاسو ديدار کيږي، چې دا ګُل رانصيب شي نو بيا د جنّت په ګلونو او پاڼو (يعنې د هغه ځائے په نعمتونو)

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:227۔

څه کووم؟ که ما ته د جنّت پاک شراب میلاو شي او که میلاو نه شي، البته که دا سعادت رانصیب شي چې تاسو د خپلې هم کلامۍ شرف راعطا کړئ. که ستاسو د خوږ خوږ، ښکلي ښکلي آواز شهد مې نصیب شي نو بیا د شَکَرو [یعنې د نورو خوږو] وغیره څه ضرورت دے؟

دا د عاشقانو ارمان وي چې د **اللّٰه** پاک په رحمت او د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شفاعت باندې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! جنّت خو رانصیب شي، خو کاش! چې **په جنّت کښې د آقا کریم** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **ګاؤنډ** هم رانصیب شي. مونږ د خپل دې ارمان پوره کولو، د دې عظیم الشانه نعمت د حقدار جوړیدو د پاره څه کولے شو؟ د دې د پاره به مونږ د هغه نیکو اعمالو ذِکر اورو، په کومو باندې چې **په جنّت کښې د آقا** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د ګاؤنډ** زیرے ورکړے شوے دے. د ټولو نه وړومبے راځئ چې یو ایمان تازه کوونکے **حدیثِ پاک** واورو:

## په جنّت کښې ما خپل ګاؤنډي جوړ کړئ

حضرت ربیعه اسلمي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابئ رسول دے، د اَصحابِ صُفّه نه دے، د رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادم وو، په سفر او حَضر کښې به ئې د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د پاتې کیدو شرف موندلو. هغوئي فرمائي: ما به د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حجرے مبارکې خوا کښې شپه تیروله (د پاره د دې چې که نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د اوداسه د پاره د اوبو یا مسواک وغیره څه څیز حاجت وي نو چې پیش ئې کړم)، د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د شپې به کله رابیدار شو نو دا ئې لوستل: سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْن، سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ[1]

یو ځلې د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوب نه رابیدار شو نو زه د اوداسه

[1]... نسائی، کتاب قیام اللیل و تطوع النهار، باب ذکر ما یستفتح به القیام، صفحه:282، حدیث:1615۔

د پاره د اوبو او د مسواک وغیره سره حاضر شوم. (زما دا خدمت ئې چې اولیدلو نو د کرم دریاب په جوش کښې راغلے، د سخیانو سخي، مکي مدني صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عطاګانو دروازه برسیره کړه او) اوئې فرمائیل: سَلْ! اے ربیعه! اوغواړه! ما عرض اوکړو: اَسْاَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ یعني یَا رسُولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه ستاسو نه **په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ** غواړم. [1]

سائل ہوں ترا، مانگتا ہوں تجھ سے تجھی کو
معلوم ہے مجھ کو تری اِقرار کی عادت

حضرت جمیلِ رضوي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ لیکي:

میں تری دَین کے قربان کہ تیرے منگتا
تجھ سے جو چاہتے ہیں مانگ لیا کرتے ہیں [2]

په غوښتلو خو حضرت ربیعه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هر څه غوښتلي وو خو زما آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخیانو سخي دے، د هغوئي د عطاګانو شان څانګړے دے.

میرے کریم سے گر قطرہ کسی نے مانگا
دریا بہا دیئے ہیں، دُرّ (موتی) بے بہا (بے شمار) دیئے ہیں [3]

حضرت ربیعه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ **په جنّت کښې د آقا ګاؤنډ** غوښتے وو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اَوَغَيْرَ ذٰلِكَ یعني څه نور څه هم پکار دي؟ عرض ئې اوکړو: هُوَذَاكَ یعني هُم دا پکار دي. [4]

---

1... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب فضل السجود و الحث علیه، صفحه:184، حدیث:489 ملتقطًا۔

2... قبالۂ بخشش، صفحه:187۔

3... حدائقِ بخشش، صفحه:102۔

4... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب فضل السجود و الحث علیه، صفحه:184، حدیث:489 ملتقطًا۔

فضلِ رَبُّ العُلیٰ اور کیا چاہئے | مِل گئے مصطفےٰ اور کیا چاہئے
دامنِ مصطفےٰ جن کے ہاتھوں میں ہے | اُن کو روزِ جزا اور کیا چاہئے
نعمتیں دونوں عالَم کی دے کر ہمیں | پوچھتے ہیں بتا اور کیا چاہئے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت ربیعه رضی اللہ عنہ عرض اوکړو: یَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم! دا طلب لرم چې **په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ** رانصیب شي، په دې باندې رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **فَاَعِنِّیْ عَلٰی نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْد** یعنې په کثرت سره د سجدو کولو په ذریعه په خپل نفس باندې زما مدد اوکړه! [1]

مالک ہیں خزانۂ قُدرت کے، جو جس کو چاہیں دے ڈالیں
دی خُلد جنابِ رَبیعہ کو، بگڑی لاکھوں کی بنائی ہے [2]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مختارِ کُل دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې ایمان تازه کوونکي **روایت** کښې زمونږ د پاره د زدکړې د پاره ډیر مدني ګلونه دي. مثلاً یوه خبره خو د زدکړې د پاره دا ده چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مختارِ کُل دے، هغوئي له اختیار ورکړے شوے دے چې چا ته څه اوغواړي، کله ئې اوغواړي، څنګه ئې اوغواړي ورعطا ئې کړي. ځکه خو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم حضرت ربیعه رضی اللہ عنہ ته مطلقاً (یعنې بغیر د څه قید وبند نه) اوفرمائیل: سَلْ یعنې اوغواړه څه غواړې؟ (یعنې اے ربیعه! څه منع نشته ❀ زمونږ نه دنیا اوغواړه ❀ آخرت اوغواړه ❀ مال او دولت اوغواړه ❀ اوږد ژوند اوغواړه ❀ خوشحالئ اوغواړه ❀ عزّت او مرتبه اوغواړه ❀ جنّت اوغواړه ❀ د الله

1...مسلم، کتاب الصلاة، باب فضل السجود و الحث علیه، صفحه:184، حدیث:489 ملتقطًا۔
2...دیوانِ سالک، صفحه:52۔

پاک قرب اوغواړه، څه چې هم غواړې میلاویږي به). یقیناً داسې ښکاره پیشکش هُغه څوک کولے شي، د چا سره چې فراخه اختیارات وي او زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم حضرت ربیعه رضی اللہ عنہ ته دا پیشکش اوکړو نو دا د دې خبرې دلیل دے چې **اللہ** پاک هغوئي ته اختیارات عطا کړي دي او چا ته چې څه اوغواړي، کله اوغواړي، څنګه اوغواړي عطا کولے شي.

ان کے ہاتھ میں ہر کنجی ہے | مالکِ کل کہلاتے یہ ہیں
اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰکَ الۡکَوۡثَر | ساری کثرت پاتے یہ ہیں
رَبّ ہے معطِی، یہ ہیں قاسِم | رِزق اس کا ہے کھلاتے یہ ہیں

## د بارګاهِ رسالت نه څه غوښتلے شې؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت ربیعه رضی اللہ عنہ د واقعے نه دویم مدني ګل دا زده کیږي چې د بارګاهِ رسالت نه په څه غوښتلو کښې شرم، تذبذب نه دے پکار، دا د دنیا بادشاهان او مالداران غټان وي چې د دوئي نه په غوښتلو کښې هم سوچ کول وي، په غوښتلو کښې هم ویره وي چې که اوئې غوارم نو دے به ئې راکړے شي که نهٔ، که فلانکے خیز اوغوارم نو چرته خفه نشي.

دَرِ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ وآلہٖ وسلّم د ټولو نه لوئي سخي دربار دے. دلته په غوښتلو کښې څه شرم محسوسول یا تذبذب کښې پریوتل نه وي، دا ویره نه وي چې دا خیز اوغوارم نو میلاو به هم شي او که نهٔ بلکه

مانگ مَن مانتی، مُنہ مانگی مُرادیں لے گا
نہ یہاں **نا** ہے، نہ منگتا سے یہ کہنا **کیا ہے**؟(1)

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:171۔

اوګورئ! حضرت ربیعه رضی اللہ عنہ اوغوښتل، بغیر د تذبذب نه ئې اوغوښتل او څه څه ئې اوغوښتل؟ ❁ په ایمان باندې ئې خاتمه اوغوښتله (ځکه چې د چا په ایمان باندې خاتمه اونشي، هغه جنّت ته هډو تللے نشي) ❁ د نیکو توفیق ئې اوغوښتو (ځکه چې جنّت ته داخله د الله پاک په رحمت میلاویږي خو هلته اوچتې درجے د نیکو اعمالو مطابق میلاویږي) ❁ د قیامت په ورځ ئې د اعمالو قبولیت اوغوښتو (ځکه چې د چا اعمال قبول نشي، رد کړے شي، هغه به په جنّت کښې اوچته مرتبه څنګه مومي) ❁ بیا ئې په جنّت کښې اوچته مرتبه هم اوغوښتله او د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا هر څه خپل صحابي رضی اللہ عنہ ته عطا کړل، د دې نه دا معلومه شوه چې مونږه هم د حُضُور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نه ایمان، مال، اولاد، عزّت، جنّت هر څه غوښتلے شو، دا غوښتل **سُنّتِ صحابه** دي. [(1)]

*جو چاہے ان سے مانگ کہ دونوں جہاں کی خیر*

*زَرِنا خریدہ ایک کنیز ان کے گھر کی ہے* [(2)]

**وضاحت:** د دوارو جهانونو ټول خیرونه د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په اختیار کښې داسې ورکړے شوي دي لکه چې دا ټول نعمتونه د هغوئي د کور وینزې دي، لهٰذا چې څه غوارې، د هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم نه ئې اوغواره (دلته که دنیا غوارې! هغه به هم میلاو شي، او که آخرت غوارې! هغه به هم میلاو شي).

## د غوښتلو شعور هم پکار دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ چې د بارګاهِ رسالت نه څه غواړو غوښتلے ئې شو او رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ئې راعطا کوي هم، خو خبره دا ده چې د

---

1…مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:84 بتغیر قلیل۔

2…حدائقِ بخشش، صفحه:224۔

غوښتلو هم يوه طريقه وي، انسان له خو چې غوښتل هم ورځي. يقيناً د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د دين او دنيا هر خير غوښتلے شو خو تاسو پخپله غور اوکړئ چې مدينے منورے ته حاضري وي، بنده د جنګلو مبارکو مخې ته ولاړ وي او وړوکے شان څه خيز اوغواړي، آيا ښه به ښکاري؟ اوګورئ! حضرت ربيعه رَضِیَ اللهُ عَنْه خومره عظيم نعمت اوغوښتو، عرض ئې اوکړو: **يا رسولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**! په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ غواړم.**

په بعضې روايتونو کښې دي: حضرت ربيعه رَضِیَ اللهُ عَنْه د سوچ کولو د پاره مهلت اوغوښتو (يعني هغوئي اوغوښتل چې دومره لوئي پيشکش شوے دے، چرته زه وړوکے شان خيز اونه غواړم، ځکه ئې د سوچ د پاره وخت اوغوښتو)، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مهلت ورکړلو، بيا د غور او فِکر نه پس هغوئي واپس راغلل او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې ئې خپل طلب وړاندې کړو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اے ربيعه! د دې غوښتلو تاسو ته چا اووئيل؟ عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چا هم راته نه دي وئيلي، بس ما غور اوکړو چې دنيا خو فاني ده، زر به ختمه شي، بس ما خوښ کړل چې د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه آخرت اوغواړم. (1)

**سُبْحٰنَ الله!** د صحابئ رسول رَضِیَ اللهُ عَنْه ارمان او خواهش ته اوګورئ! خومره عظيم دے. شيخ عبد الحق محدِّث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د حضرت ربيعه رَضِیَ اللهُ عَنْه د عمل مبارک نه دا هم معلومه شوه چې) رښتوني غوښتونکي له پکار دي چې د آخرت هميشه پاتې کيدونکي نعمتونه اوغواړي، خاص طور کامِل ترين نعمت، افضل ترين کمال يعني **په جنّت کښې د رسولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ګاؤنډ** اوغواړي، د دې د پاره کوشش اوکړي، د دې نه علاوه بل طرف ته نه ګوري. (2)

---

1...مسند امام احمد، مسند المدنيين، حديث ربيعة بن کعب رَضِیَ اللهُ عنه، جلد:6، صفحه:697 خلاصةً۔

2...لَمَعَاتُ التَّنْقِيْح، کتاب الصلاة، باب السجود و فضله، جلد:3، صفحه:31، تحت الحديث:896۔

سرکار کا در ہے، درِ شاہاں تو نہیں ہے
جو مانگ لیا، مانگ لیا، اور بھی کچھ مانگ
سلطانِ مدینہ کی زیارت کی دُعا کر
جنّت کی طلب چیز ہے کیا اور بھی کچھ مانگ

## د آقا ګاؤنډ اوغواړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** یقیناً د دین او دنیا ټول خیرونه مونږ ته د محبوبِ ذیشان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په برکت میلاویږي، آئنده چې هم څه میلاویږي، [هغه به] هم د حُضُور صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم په برکت میلاویږي، البته مونږ له پکار دي چې په زړه کښې صرف یو ارمان لرو چې: **زما په جنّت کښې د آقا [صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم] ګاؤنډ پکار دے.** د دې نه کم څه څیز باندې سمجهوته نه دي کول پکار. مونږ ته د صحابهٔ کرامو علیهم الرّضوان نه هم دغه سبق د زدکړې د پاره میلاو شوے دے. یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د حضرت اُمِّ عماره رضی اللہ عنہا ځوي ته مخاطب وو او فرمائیل ئې: **الله** پاک دې په تاسو ټول کور والؤ باندې برکتونه نازل کړي! ستا د مور مرتبه د فلانکي نه بهتره ده، ستا مرتبه د فلانکي د مرتبې نه بهتره ده. حضرت اُمِّ عماره رضی اللہ عنہا چې دا خبره واوریدله نو عرض ئې اوکړو: یا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم! زمونږ د پاره دعا اوکړئ چې **په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ** رانصیب شي. هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دعا اوفرمائیله: اَللّٰھُمّ اجْعَلْھُمْ رُفَقَآئِیْ فِی الْجَنّۃِ اے **الله** پاکه! دوئي په جنّت کښې زما ملګري جوړ کړې. د مصطفٰے کریم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا دعا ئې چې واوریدله نو حضرت اُمِّ عماره رضی اللہ عنہا په جوش کښې اووئیل: مَا اُبَالِیْ مَا اَصَابَنِیْ مِنَ الدُّنْیَا اوس چې په دنیا کښې ما ته څه رارسي، زما په دې هیڅ پروا نشته. (1)

1...کتاب المغازی، غزوۃ احد، جلد:1، صفحه:238 خلاصةً۔

## حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غوښتلو شعور هُم ورکوي

يو ځلې يو اعرابي په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو، د کرم درياب کوم چې هر وخت په جوش کښې وي، هٰغه وخت هم په جوش کښې وو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سَلْ مَا شِئْتَ يَا اَعْرَابِيُّ! اے اعرابي! چې څه غواړې اوغواړه.

صحابهٔ کرام عليهم الرّضوان فرمائي: مونږ د هغه په قِسمت باندې رشک کولو (چې څومره لوئي پيشکش ورته شوے دے)، مونږه سوچ کولو چې اوس به دے جنّت اوغواړي. خو هغه اعرابي عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما سورلئ (مثلاً اوښ، اَس وغيره) پکار دے. اوئې فرمائيل: تا له مې سورلئ درکړله، نور څه اوغواړه. اعرابي عرض اوکړو: د سورلئ سامان (مثلاً کجاوه وغيره) راکړئ! اوئې فرمائيل: دا مې هم درکړله، نور څه اوغواړه...!! عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زادِ راه (يعنې د سفر سامان) هم راکړئ!

صحابهٔ کرام عليهم الرّضوان فرمائي: مونږ هغه اعرابي ته حيران وو (چې دا څه غواړي، خير!) اعرابي چې څه غوښتلي وو، هغه هر څه ورته ورکړے شول. بيا خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د اعرابي په غوښتلو او د بني اسرائيلو د بوډئ په غوښتلو کښې څومره فرق دے...!! بيا هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بني اسرائيلو د بوډئ واقعه بيان کړله: (د کومې خلاصه چې دا ده چې) کله حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د بني اسرائيلو سره مِصر ته روان شولو نو د **الله** پاک د طرف نه حکم اوشو: د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام جَسَد [بدن] مبارک هم د ځان سره واخلئ!

(د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د دنيا نه د رخصتيدو صدئ تيرې شوې وې او هغوئي د دريائے نيل په مينځ کښې دفن کړے شوي وو، لهٰذا د دومره صدو تيريدو نه پس چا ته هم پته نه وه چې حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام په کوم ځائے کښې دفن کړے شوے وو، صرف يوې بوډئ ته

هغه ځائے معلوم وو)، حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هغې بوډۍ نه پوښتنه اوکړه: آیا تا ته پته ده چې د حضرت یوسُف عَلَیْہِ السَّلَام قبر په کوم ځائے کښې دے؟ اوئې وئیل: آو جي! حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائیل: مونږ ته ئې اوښایه! اوئې وئیل: په خدائے مې دې قسم وي! تر څو چې تاسو زما غوښتنه پوره نکړئ نو زه به ئې نه درښایم. اوئې فرمائیل: اوغواړه څه غواړې، تا له به درکړے شي. بوډۍ هوښیاره وه، اوئې وئیل: زه ستاسو نه **په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ** غواړم. حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام اوفرمائیل: صرف جنّت اوغواړه! اوئې وئیل: نهٔ...!! په خدائے مې دې قسم وي! زه د دې نه په کمه بالکل نهٔ یم رضا، **زما صرف جنّت نهٔ بلکه په جنّت کښې ستاسو ګاؤنډ** هم پکار دے. حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغه ډیره پوهه کړه خو هغه په خپله خبره ټخه ولاړه وه، په دې باندې **الله** پاک وحي راولیږله او اوئې فرمائیل: اے موسیٰ! ستاسو څه نقصان دے...!! چې څه غواړي ور ئې کړئ! حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هغې غوښتنه پوره کړله او د حضرت یوسُف عَلَیْہِ السَّلَام جَسَد مبارک ئې ځان سره واخستلو او روان شولو. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دا ده د غوښتلو طریقه...!! د بوډۍ سوچ ته اوګورئ! خدمت څومره دے او سوال څومره لوئې کوي...!! د دې روایت نه دوه خبرې زده شوې: **(1):** یوه خبره خو د هغه اعرابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د عمل نه زده شوه، هغه صحابي وو، هغه د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دنیائي څیزونه اوغوښتل او هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې نه انکار اونه فرمائیلو، د دې نه معلومه شوه چې که د دنیا واړه واړه خواهشونه او ضرورتونه وي، مونږه هغه هم د بارګاهِ رسالت نه غوښتلے شو په دې کښې هیڅ باک نشته **(2):** دویمه خبره دا معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي

---

1...مکارم الاخلاق، جماع ابواب الرفق...الخ، باب ما جاء فی السخاء...الخ، جلد:3، صفحه:264، حدیث:731 خلاصةً۔

مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم غواړي چې مونږه **په جنّت کښې د آقا د ګاونډ** طلبګار جوړ شو. اوګورئ! هغه اعرابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې څه اوغوښتل، هغوئ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه هم هغوئ ته عطا کړل خو ورسره ئې د بني اسرائيلو د بوډۍ واقعه هم بيان کړه او دا ترغيب ئې هم ورکړو چې کله غواړئ نو هغه غواړئ څه چې د بني اسرائيلو بوډۍ غوښتلي وو بلکه په يو روايت کښې دي، هغوئ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَعَجَزْتُمْ اَنْ تَكُوْنُوْا مِثْلَ عَجُوْزِ بَنِیْ اِسْرَائِيْل يعني آيا تاسو دا نشئ کولے چې د بني اسرائيلو د بوډۍ په شان شئ! (1)
يعني لکه څنګه چې د بني اسرائيلو بوډۍ په جنّت کښې د خپل نبي حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ګاونډ غوښتلے وو، هم دغه شان چې کله د غوښتلو موقع وي نو تاسو هم **په جنّت کښې د خپل آقا ګاونډ** غواړئ!

| | |
|---|---|
| ایمان پہ دے موت مدینے کی گلی میں | مدفن مِرا محبوب کے قدموں میں بنا دے |
| اللہ کرم اتنا گنہگار پہ فرما | جنّت میں پڑوسی مِرے آقا کا بنا دے (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د آقا ﷺ ګاونډي جوړوونکي اعمال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! شيخ عبد الحق محدث دهلوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: په جنّت کښې د آقا د ګاونډي جوړيدو د پاره صرف خواهش کافي نه دے، بنده له پکار دي چې د دې د پاره وسيله هم اختيار کړي يعني افضل نيکۍ او عبادتونه اوکړي او د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قرب هم حاصل کړي. (3) د حضرت ربيعه اسلمي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په روايت غور اوکړئ! هغوئ چې **په جنّت کښې د آقا ګاونډ** اوغوښتو نو رسولِ ذيشان، مکي مدني سلطان

1...صحيح ابن حبان، کتاب الرقائق، باب الورع والتوکل، ذکر الخبر الدال...الخ، صفحه:303، حديث:723۔
2...وسائلِ بخشش، صفحه:112۔
3...لَمَعَاتُ التَّنْقِيْح، کتاب الصلاۃ، باب السجود و فضله، جلد:3، صفحه:31، تحت الحديث:896۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته په کثرت سره د سجدو کولو تلقين اوفرمائيلو.

## (1) د سجدو کثرت

د دې نه معلومه شوه چې په کثرت سره سجدے کول په جنّت کښې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړوونکے عمل دے.

سُبْحٰنَ الله! څومره آسان عمل دے...!! په کثرت سره سجدے کول دي، مونږ چې روزانه پينځه واړه (فرض، سنت او نفلونه وغيره يو ځائے کړو او مکمل ئې) ادا کړو نو 48 رکعتونه جوړيږي، په هر رکعت کښې دوه سجدے، دا ټولې 96 سجدے شوې، ورسره د تهجد که زيات نه وي نو دوه نفلونه يو ځائے کړئ! 100 سجدے شوې، د اشراق او چاشت کم از کم څلور رکعتونه نور شامل کړئ! 108 سجدے شوې، شپږ [6] د اَوَّابِين نفلونه شامل کړئ! 120 سجدے شوې، دوه رکعته صلاةُ التَّوبَه ادا کوئ! په ورځ کښې د يو لمونځ سره د تَحِيَّةُ الوُضُو لمونځ کوئ! د تَحِيَّةُ المسجد هم دوه نفلونه ادا کوئ! دا ټول 132 سجدے شوې، په قرآنِ کريم کښې 14 د سجدے آيتونه دي، دا 14 واړه آيتونه اولولئ او 14 سجدے اوکړئ نو حاجتونه به مو پوره کيږي، د دين او دنيا د هر حاجت پوره کيدو بهترينه وظيفه ده، کم او زيات د لسو [10] نه دولس [12] منټه پرې لګي، د سجدے آيتونه اولولئ او 14 سجدے اوکړئ! دا ټولې 146 سجدے شوې، کومې چې مونږ په ډيره آسانئ سره په يوه ورځ کښې کولے شو.

کار څومره آسان دے، که مونږ په کثرت سره د سجدو کولو عادت جوړ کړو نو په داسې کولو به څه ميلاو شي؟ د الله پاک قرب او په جنّت کښې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ...!! سُبْحٰنَ الله!

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا

ہم مفلس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [1]

## د سجدو کثرت د درجاتو اوچتوالے

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د **الله** پاک په حُضُور کښې سجده کول ډېر د فضيلت والا کار دے. تابعي بزرګ حضرت مَعدَان بن ابو طلحه رحمۃ اللہ علیه بيانوي چې زه د صحابئ رسول حضرت ثوبان رحمۃ اللہ علیه سره ميلاو شوم ، ما عرض اوکړو: ما ته داسې عمل اوښائيئ کوم چې زه اوکړم نو د هغې په برکت **الله** پاک ما جنّت ته داخل کړي، يا (ما دا اووئيل چې) ما ته د **الله** پاک د ټولو نه خوښ عمل اوښائيئ. حضرت ثوبان رضی اللہ عنه خاموشه پاتې شولو. ما بيا پوښتنه اوکړه، هغوئي خاموشه پاتې شولو. ما چې کله په دريم ځل پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل: ما د رسولُ الله صلّی اللہ علیه واٰله وسلّم نه په دې باره کښې پوښتنه کړې وه، هغوئي صلّی اللہ علیه واٰله وسلّم فرمائيلي وو، په کثرت سره سجدے کوه ځکه چې تهٔ چې کله هم د **الله** پاک د پاره سجده کوې، **الله** پاک به ستا يوه درجه اوچتوي او د هغې په بدله کښې به ستا يوه خطا معاف کوي. [2]

## د سجدے اندامونه به د وور نه محفوظ وي

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنه نه روايت دے، د مدينے تاجدار صلّی اللہ علیه واٰله وسلّم ارشاد اوفرمائيلو: د سجدے د نښې نه علاوه د انسان ټول بدن به وور سوزوي. **الله** پاک په دوزخ باندې حرام کړې دي چې هغه د سجدے نښې اوسوزوي. [3]

---

1... حدائق بخشش، صفحه:186۔

2... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب فضل السجود والحث علیه، صفحه:184، حديث:488۔

3... مسلم، کتاب الایمان، باب معرفة طریق الرؤیة، صفحه:8887، حديث:182۔

## نوراني تندے

حضرت ابو اسماعيل رحمۃ اللہ علیہ چې کله وفات شو نو په کور والؤ کښې هغوئي چا په خوب کښې په دې حالت کښې اوليدلو چې د هغوئي د سجدے ځائے [يعني تندے] د پړقيدونکي ستوري په شان روښانه دے، نو عرض ئې اوکړو: دا ستاسو په مخ باندې څه دي؟ هغوئي اوفرمائيل: زما تندے د خاورې نه د نقصان رسيدو په وجه نوراني کړے شوے دے. عرض ئې اوکړو: په آخرت کښې تاسو ته کوم مقام حاصل شو؟ اوئې فرمائيل: بهترين کور دے، د کوم اوسيدونکي چې نۀ د دې ځائے نه بدليږي او نۀ هغوئي له هډو مرګ راځي. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د سجدے کولو نور هم ډير زيات فضيلتونه او فائدے دي، د شيخ طريقت، امير اهلسنت دامت برکاتہم العالیہ ډير ښکلے کتاب دے: فيضانِ نماز. په دې کښې د لمونځ داسې داسې فضيلتونه بيان کړے شوي دي چې په لوستلو ئې زړه خوشحاليږي، په دې کښې يو باب دے: "سجدے کے فضائل". دا اولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! تاسو ته به د سجدے په باره کښې ډير زيات معلومات هم حاصل شي او په کثرت سره د سجدو کولو ذهن به مو هم جوړ شي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلی اللہ علیہ والہ وسلم.

## (2) د لونړو پالل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په جنّت کښې د آقا ګاؤنډي جوړوونکے دويم نيک عمل دا دے: د لونړو ښه پالنه کول. د حضرت انس بن مالک رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د مصطفٰے کريم صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمان مبارک دے: د چا چې درې لونړه وي او

---

1... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب المنامات، جلد:3، صفحه:59، حديث:65۔

هغه د هغوئي په معامله کښې د اللّٰه پاک نه ويريږي او د هغوئي پالنه اوکړي نو هغه ګس به په جنّت کښې زما سره داسې وي. د دې ارشاد فرمائيلو سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو څلورو واړو ګوتو طرف ته اشاره اوفرمائيله. [1] په يو روايت کښې د دوو لوڼو ذکر دے چې چا د دوو لوڼو پالنه اوکړه، زه او هغه به په جنّت کښې داسې يو. بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو دوو مبارکو ګوتو يو ځائے کولو سره اشاره اوفرمائيله. [2]

ہر وقت جہاں سے کہ انہیں دیکھ سکوں میں

جنت میں مجھے ایسی جگہ پیارے خدا دے [3]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مرآة المناجيح کښې فرمائي: عموماً د ځامنو سره دنيائي اميدونه تړلي وي چې دے به ځلمے شي او زمونږه خدمت به اوکړي، دے به ئې ګټي او په مونږ به ئې خوري، د جينکو نه دا اميد نه وي ځکه د جينکو پالل او په دې باندې صبر کول ثواب دے. جينکۍ که لوڼه وي او که خوئيندې وي. [4] نور په يو ځائے کښې فرمائي: په خوشحالۍ باندې دوه جينکۍ پالل که هغه خپلې لوڼه وي او که خوئيندې وي او که يتيمانانې جينکۍ، په قيامت کښې د مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرب ذريعه ده او چا ته چې په هُغه ورځ د حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) قرب نصيب شي هغه ته به هر څه ميلاو شي.

گر مُحَمَّد کا ساتھ ہو جائے

پھر تو سمجھو نجات ہو جائے [5]

1...مسند امام احمد، مسند انس بن مالک، جلد:5، صفحه:439، حديث:12929۔

2...موسوعة ابن ابی الدنیا، کتاب العیال، باب فی احسان الی البنات، جلد:8، صفحه:38، حديث:115۔

3...وسائل بخشش، صفحه:120۔

4...مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:564۔

5...مرآة المناجیح، جلد:6، صفحه:546 بتغير قليل۔

## لور لکه د جنّت ټکټ دے

خورو او محترمو اسلامي وروڼو! اولاد عظيم نعمت دے، که الله پاک چا ته لوڼه عطا کړي نو دا هم د هغه عطا ده، که ځامن ورعطا کړي نو دا هم د هغه ورکړه ده. ځکه د اولاد د ښې پالنې ذهن جوړ کړئ خاص طور که لور وي نو د هغې پالنه ښه په شوق او ذوق سره اوکړئ! عموماً خلق ځامن د بوډا والي ملاتړ ګڼي، دا يو ښه اُميد دے حالانکه ځوي چې غټ شي د پلار ملاتړ به جوړيږي او که نۀ...!! دا د نصيب خبره ده او **لور خو دا اوګڼئ چې لکه د جنّت ټکټ دے.** چې مونږه د **الله** پاک د رضا د طلبګار اوسيدو سره، په نيک نيتئ سره، په خوشحاله زړه د لور ښه روزنه پالنه اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! په جنّت کښې به د آقا د ګاؤنډي جوړيدو حقدار جوړ شو.

## آه... خوارانې لوڼه!

اے عاشقانِ رَسُول! لور رحمت دے خو افسوس! د جهالت د زمانے نظاره بيا په معاشره کښې ښکاره شوې ده، بعضې خلق د اسلامي تعليماتو هيرولو په سبب د لور پيدا کيدل بد ګڼي او د بے رحمئ مظاهره کوي. روزانه په لوڼو د کيدونکو ظلمونو خبرونه چاپ کيږي، د لور په پيدائش باندې غمژن کيدل، که څوک مبارکي ورکړي نو هغه ته سپورې سترګې وئيل [دا] خو مَعَاذَ الله! ورځ په ورځ عاميږي. د حيرانتيا خبره ده چې بعضې زنانه هم په زړه ډيرې سختې وي. د لور پيدائش بوج ګڼل، هغه سپيرۀ ګڼل، د کومې زنانه چې صرف لوڼه وي، هغې له پيغورونه ورکول او په هغې پورې خندا کول وغيره په زنانۀ کښې هم وي حالانکه دوئي پخپله هُم د چا لوڼه دي. آه! خوارانې لوڼه! چې لا ړې شي نو چرته لا ړې شي...!!

اے بے کسوں کے آقا! اب تیری دُہائی ہے

## د لور په فضیلت باندې 4 حدیثونه

**(1):** د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى الله عليهِ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: لوڼه بدې مه ګڼئ، بے شکه هغه محبت کوونکې دي. [1] **(2):** په یو **حدیثِ پاک** کښې دي: چې د چا لور پیدا شي او هغه هغې ته ضرر اونه رسوي او نه ئې بده اوګڼي نهٔ ځوي له په لور باندې فضیلت ورکړي نو **الله** پاک به هغه ګس جنّت ته داخل کړي. [2] **(3):** د **مسلم شریف حدیثِ پاک** دے: په کوم ګس چې د لوڼو د پالنې بوج پریوځي او هغه د هغوئي سره ښه سلوک اوکړي نو دا لوڼه به د هغه د پاره د دوزخ نه ډال جوړې شي. [3] **(4):** په یو بَل روایت کښې د لوڼو په باره کښې ډیر ښکلے تعلیم ورکړے شوے دے، د مصطفٰے کریم صَلَّى الله عليهِ واٰلہٖ وسلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د بازار نه د خپلو بچو د پاره څه څیز راوړي نو هغه په هغوئي باندې د صدقه کوونکي په شان دے او هغه له پکار دي چې [په څه ورکړه کښې] د لوڼو نه شروع اوکړي ځکه چې څوک لوڼه خوشحاله کړي هغه د **الله** پاک د ویرې نه د ژړیدونکي په مثال دے او څوک چې د **الله** پاک د ویرې نه اوژاړي **الله** پاک به هغه باندې دوزخ حرام کړي. [4]

## په لوڼو باندې ایثار کوونکې نیکه زنانه

اُمُّ المُؤمِنِين حضرت عائشه صِدِّیقه رضی الله عنها فرمائي: زما خوا له یوه مسکینه زنانه راغله، د هغې سره د هغې دوه لوڼه هم وې، ما هغې له درې کجورې ورکړې. (هغې هرې یوې له یوه یوه کجوره ورکړه، بیا) چې کومه کجوره هغې پخپله خوړل غوښتله هغه

---

1...مسند امام احمد، مسند الشاميين، حديث عقبة بن عامر...الخ، جلد:7، صفحه:200، حديث:17837۔

2...مستدرك، كتاب البر والصلة، باب من كن له ثلاث بنات...الخ، جلد:5، صفحه:248، حديث:7428۔

3...مسلم، كتاب البر والصلة والآداب، باب فضل الاحسان الى البنات، صفحه:1014، حديث:2629۔

4...مكارم الاخلاق، باب العطف على البنات...الخ، جلد:3، صفحه:303، حديث:759۔

ئې دوه ځائے کړه او هغه کجوره ئې هم په خپلو لوڼو اوخوړله. زه په دې واقعه ډېره حیرانه شوم، ما د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د هغې زنانه ایثار بیان کړو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **اللّٰه** پاک د دې (عمل) په وجه د هغې زنانه د پاره جنّت واجب کړو. [(1)]

## (3) د یتیم پالنه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په جنّت کښې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډي جوړوونکے دریم عمل دے: **د یتیم پالنه کول**. د جنّت تقسیموونکي آقا، **محبوبِ** خدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: چا چې د دریو یتیمانانو ماشومانو کفالت اوکړو هغه د شپې د عبادت کوونکي، د ورځې د روژه نیوونکي او سحر او ماښام د **اللّٰه** پاک په لار کښې د جهاد کوونکي په شان دے، زه او هغه به په جنّت کښې داسې یو ځائے یُو لکه دا دوه ګوتې، بیا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهادت او مینځنۍ ګوته یو ځائے کړه. [(2)]

د **بخاري شریف** په **حدیثِ پاک** کښې صرف د یو یتیم په کفالت باندې هم دغه زیرے ورکړے شوے دے. البته! په دې روایت کښې لږ شان فرق دا بیان شوے دے چې کله حضور نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې شهادت والا او مینځنۍ ګوتې سره اشاره اوکړه نو د دواړو ګوتو په مینځ کښې ئې څه فاصله اوساتله. [(3)]

اللہ کرم اتنا گنہ گار پہ فرما

جنّت میں پڑوسی مرے آقا کا بنا دے [(4)]

---

1...مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب فضل الاحسان الی البنات، صفحه:1015، حدیث:2630۔

2...ابن ماجه، کتاب الادب، باب حق الیتیم، صفحه:593، حدیث: 3680۔

3...بخاری، کتاب الطلاق، باب اللعان، صفحه:1361، حدیث:5304۔

4...وسائل بخشش، صفحه:112۔

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے عمل دے...!! د يتيمانانو پالنه اوکړئ! د هغوئي خيال ساتئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په جنّت کښې به د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ درنصيب شي. که مونږ لږه شان تَوَجُّه اوکړو نو زمونږ په خاندان کښې، په لرې نزدې خپلوانو کښې، په کلي محله کښې يتيمانان ماشومان عموماً موجود وي، په هغوئي کښې د يو يا که الله پاک وَس درکړے وي نو د دوو، څلورو يا لسو ماشومانو خرچه په خپله ذمه واخلئ! د مياشتې خرچه، پيزار جامې، په اخترونو کښې ورله څه شاپنګ وغيره کوئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په رزق کښې به مو برکت هم کيږي، ثواب به مو هم کيږي او که الله پاک اوغوښتل نو په جنّت کښې به د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاؤنډي جوړيدو حقدار هم جوړ شئ.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د اُمَّت خير خواه دے، هغوئي د يتيمانانو او غريبانانو سره ډير محبت کوي، د هغوئي سره خير خواهي کوي. د الله پاک په فضل سره دعوتِ اسلامي د مَدَني هَوم په نوم باندې يتيم خانے هم جوړوي. په دې مَدَني هَومز کښې به د يتيمانانو پالنه کولے شي، د هغوئي د بهتر تعليم او تربيت اهتمام به کيږي او د هغوئي د پاره به د ښه روزګار اهتمام هم کولے شي. تاسو هم په دې نيک کار کښې د دعوتِ اسلامي ملګرتيا اوکړئ! الله پاک چې څومره وَس درکړے وي، د هغې مطابق د دوو، څلورو، لسو، سلو يا دوو سوو يتيمانانو ماشومانو د مياشتې خرچه په خپله ذمه واخلئ! ستاسو په ورکړے شوي رقم به د يتيمانانو کفالت کيږي، او اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! ستاسو به ثواب کيږي.

## د يتيمانانو سره د ښه سلوک برکت

يو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: زه په تير ژوند کښې د شرابو عادت لرونکے او د بد کردار مالک ووم، ما يوه ورځ يو يتيم اوليدو نو د هغه سره مې ډير ښه سلوک اوکړو لکه څنګه چې پلار د خپل ځوي سره کوي بلکه د هغې نه مې هم ورسره ښه سلوک

اوکړو. کله چې زه اوده شوم نو ما خوب اوليدو چې د دوزخ فرښتے ډيرې په بے دردئ سره ما په راښکلو د دوزخ په لور بوځي، په دې کښې ناڅاپه هغه يتيم رامينځ ته شو او اوئې وئيل: دے پريږدئ د پاره د دې چې زه د رَبِّ کريم سره د ده په باره کښې خبرې اوکړم خو هغوئي انکار اوکړو، بيا آواز راغلے: دے پريږدئ! مونږه په دې يتيم باندې د رحم کولو په وجه دے بخښلے دے، بيا راپاڅيدم او د هغې ورځې نه زه د يتيمانانو سره ډير د عزت والا سلوک کووم. [1]

**اللّٰه** پاک دې زمونږه هم رحمدلي نصيب کړي او [**اللّٰه** پاک دې اوکړي] چې مونږه د يتيمانانو، غريبانانو، بے وَسو پالنه کوونکي او د هغوئي سره خير خواهي کوونکي جوړ شو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## (4) د مشرانو ادب، په کشرانو باندې شفقت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په جنّت کښې د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړوونکے يو نيک عمل د مشرانو ادب کول هم دے. لکه څنګه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت انس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ته په نصيحت کولو کښې اوفرمائيل: اے اَنس! د مشرانو ادب او احترام کوه او په ماشومانو باندې شفقت کوه، **داسې به په جنّت تهٔ زما رفاقت [يعني ګاونډ] بيامومې.** [2]

مَحْفُوظ سَدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے
اور مُجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی بے ادبی ہو [3]

---

1...مکاشفة القلوب، باب فی الاحسان الی الیتیم واجتناب الظلم، صفحه:343۔

2...شُعَبُ الایمان، باب فی رحم الصغیر وتوقیر الکبیر، جلد:7، صفحه:458، حدیث:10981۔

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:315۔

## د چا ادب ضروری دے؟

د مشرانو ادب او احترام د نجات باعثِ او په جنّت کښې د آخری نبی، مُحَمَّدِ عربی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نزدیکت حاصلولو ذریعه ده. لهٰذا مونږ ته پکار دي چې څوک په علم، عمر، عهده او منصب کښې زمونږ نه مشران یا زیات وي، د هغوئي ادب او احترام کوو او زمونږ په مشرانو کښې زمونږ مور پلار، ترۀ، ماما، ترور، مشران وروڼه او خویندې او نور خپلوان، استاذان، پیر و مرشد، علماء و مشائخ وغیره ټول شامل دي او څوک چې په عمر او مقام او مرتبه کښې زمونږ نه کشران یا کم وي، هغوئي سره د شفقت او محبت سلوک اوکړو.

## ادب به څنګه کوې؟

په معاشرتی ژوند کښې زمونږه د خپلو مشرانو سره هر وخت واسطه پریوځي، څکه ضَروری ده چې مونږه په هر لحاظ سره د هغوئي د ادب و احترام خیال ساتو، یو ځل په بارګاهِ رِسالت کښې د حضرت مُحَيِّصَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مَوجُودَګئ کښې حضرت عبد الرحمٰن بن سهل رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په عمر کښې د کشر کیدو باوجود د خبرې کولو کوشش اوکړو نو حضور نبی کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته دمشرانو په ادب ښودلو کښې اوفرمائیل: **مشر خبرې کولو ته پریږده.** (1)

سُبْحٰنَ الله! دا د ادب تعلیم دے چې کله مشران خبرې کوي نو کشر له خاموشه اوسیدل پکار دي. هُم دغسې مونږ له پکار دي چې په هر لحاظ سره د مشرانو ادب کوو. مثلاً ✿ د خوراک کولو په وخت د هغوئي نه مخکښې خوراک مه شروع کوئ ✿ په مجلس کښې د هغوئي نه مخکښې خبرې مه کوئ ✿ د هغوئي نه مخکښې مه ځئ ✿ د

---

1...بخاری، کتاب الجزیۃ والموادعۃ، باب الموادعۃ المصالحۃ...الخ، صفحہ:814، حدیث:3173 خلاصۃً۔

هغوئي سره په اوچت آواز خبرې مه کوئ ❁ هغوئي ته د تکليف رسولو نه ځان ساتئ ❁ هغوئي په نوم باندې مه رابلئ بلکې په ادب سره يې مخاطب کوئ ❁ د هغوئي سره په جي، جناب، لَبَّيك وغيره د ادب والا الفاظو او انداز کښې خبرې کوئ، وغيره وغيره. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم

مَحفُوظ سَدا رکھنا شہا! بے ادبوں سے | اور مُجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی بے ادبی ہو (1)

## (5): په سنتّو عمل

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! په جنّت کښې د آقا صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډ حاصليدو سبب جوړيدونکے يو نيک عمل د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل عمل کول هُم دي. په حديثِ پاک کښې دي: رسولِ اکرم، شاه بنی آدم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ارشاد اوفرمائيلو: ځويه! که کيدے شي نو خپل سحر او ماښام په داسې حالت کښې کوه چې ستا په زړه کښې د چا کِينه نه وي. بيا يې اُوفرمائيل: ځويه! ذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِىْ يعنې دا زما سُنَّت دي، وَمَنْ اَحْيَا سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ، وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ يعنې چا چې زما سُنَّت ژوندي کړل هغه زما سره مَحبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحبَّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي.(2)

حکيم الْاُمَّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې فرمانِ مصطفےٰ "چې ستا په زړه کښې د چا کِينه نه وي" په وضاحت کولو کښې فرمائي: يعنې د مسلمان ورور له طرفه يې په دنياوی امورو کښې زړۀ صفا وي، سينه يې د کينې نه پاکه وي، نو هله به په هغې کښې د مدينے انوارِ راځي. خړه آئينه او خيرن زړه د عِزَّت قابلِ نه دي. نور

1...وسائل بخشش، صفحه:315۔

2...مشكوٰة المصابيح، كتاب الايمان، باب الاعتصام...الخ، فصل الثانی، جلد:1، صفحہ:55، حديث:175۔

فرمائي: څنګه چې په اعمالو کښې د سنتو پابندی د ثواب باعِث دي، هُم دغسې صفا زړه ساتل او ښۀ اخلاق کيدل هُم سنت دي. چې دې سره به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب حاصليږي. افسوس چې اکثر خلق په دې باندې عمل کښې کمزوري کوي. د سُنَّتو د تابعدارئ دعوىٰ کوي خو سينې يې د کينو نه ډکې وي. الله پاک دې په دې سُنَّتو د عمل کولو توفيق راکړي.(1) الله پاک دې مونږ ته په سُنَّتو د عمل کولو او د سُنَّتو خپرولو توفيق راعطا کړي.اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ويزې مِلاؤ شوې

يو اسلامي ورور تقريباً د 14 کالو نه په بَهَر وطن کښې وو. هلته هغه ته يو ځل په خپله کارخانه کښې د کار کوونکو ضرورت پيښ شو. هغه د ويزو د پاره بيا بيا درخواستونه ورکړل، خو د ډيرو کوششونو باوُجود ويزې مِلاؤ نه شوې. د مُلازمانو د نشتوالي په وجه هغه ته نقصان کيدلو. خير هغه همَّت اوکړو او يو ځل ئې بيا درخواست جمع کړو. په دې دوران کښې يو اسلامي ورور هغه ته د ”**شجره قادريه رضويه ضيائيه عطاريه**“ نه د شجره عاليه د دُعائيه اشعارو لوستلو مشوره ورکړه. هغوئي د شجرې شريفې نه دُعائيه اشعار پابندئ سره لوستل شروع کړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شجره قادريه رَضَوِيَّه ضِيائيه عَطّارِيه لوستلو په برکت د هغه هُغه کار چې د څو کالو نه نه کيدلو، د حيرانيدلو خبره ده چې په يو څو ورځو کښې اوشو او هغه ته ويزے ملاؤ شوې.

مُشکِلیں حَل کر شَہِ مُشکِل کُشا کے واسطے | کر بَلائیں رَد شہیدِ کربَلا کے واسطے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...مرآۃ المناجیح،جلد:1، صفحہ:172ملتقطًا۔

## د قرآن ټیچر ایپ (Application) تعارُف

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! نن د ټیکنالوجئ دَور دے. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! شُعبه آئی. ټـی ډیپارټمنټ (Department I.T) یو ایپلي کیشن د "قرآن ټیچر" په نوم جاري کړے دے. د دې ایپلي کیشن په ذریعه د 30 نه زیات دیني کورسونه کیږي، د دې ایپلي کیشن په ذریعه تاسو د خپلې خوښې کورس کښې آن لائن داخله اخستے شئ او د څه مشکل نه بغیر آن لائن د قرآنِ کریم تعلیم [ناظره او تجوید و قراءت وغیره] حاصلولو دپاره هُم داخله اخستے شئ. زر زر په خپل موبائل کښې دا ایپ انسټال کړئ پخپله ترینه هُم فائده واخلئ او نورو ته هُم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د بیان په آخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د څینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صلّی الله علیهٖ واٰله وسلّم فرمائي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیۡ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (1)

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |
| سینه مې دې شي جوړه د سُنّتو مدینه خوږه آقا! | جنت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

### ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي

د مصطفٰے کریم صلّی الله علیهٖ واٰله وسلّم فرمان مبارک دے: بریتونه کټ کوئ او ګیرې

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

غټوئ د مجوسیانو مخالفت کوئ! [1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبياء دي ❁ زمونږ د آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه به هميشه د يو موټي برابر وه ❁ چې د يو موټي نه به غټېدله نو کموله به ئې ❁ د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه په پلن والي کښې داسې وه چې سينه مبارکه به ئې ډکوله. [2] ❁ زمونږه آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ګیره خَرئيل او بريت غټول نه خوښول ❁ په بهارِ شريعت کښې دي: ګیره خرئيل يا د يو موټي نه کمول حرام دي. [3]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنه د بهارِ شريعت جلد 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

1...مسلم، كتابُ الطهارت، باب: خِصَالُ الۡفِطۡرَة، صفحه: 153، حديث: 257۔

2...انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحه: 157 خلاصةً۔

3...بهارِ شريعت، حصه: 16، جلد: 2، صفحه: 586۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْـحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃُ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵